شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

**نبي کريم ﷺ فرمايلي دي:**

د خپل مسلمان ورور په مخکې، ستاسې مُسکا، ستاسو له پاره صدقه او خيرات دئ. { رواه_الترمذي }

**پیامبر اکرم ﷺ فرمود:**

لبخند شما در پیشروی برادر مسلمان تان برای شما صدقه و خیرات است. { رواه الترمذی}

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

شنبه| د جمادي الثاني ٥-١٤٤٦ال س/ د لېندۍ ١٧-١٤٠٣ال ل/ د ډسمبر ٧-٢٠٢٤ز/خلورم کال / ١٢٥ گڼه/ ٤ مخيزه ١

## سرمقاله

### فرصت های اقتصادی کلید توسعه‌ای پایدار

فرصت های اقتصادی به اوضاع، شرایط یا موقعیت هایی اشاره می کند که امکانات و شرایط اقتصادی برای سرمایه‌گذاری، توسعه و رشد وجود داشته باشد. در دنیای امروز، فرصت‌های اقتصادی به عنوان یکی از عوامل کلیدی در رشد و توسعه کشور ها شناخته می‌شوند. این فرصت‌ها نه تنها برای افراد و کسب و کار ها مزایای قابل توجهی به ارمغان می آورند، بلکه می‌توانند به توسعه پایدار و رفاه عمومی کمک کنند. در شرایطی که تغییرات سریع اقتصادی، اجتماعی و تکنالوژیکی در حال وقوع است، شناسایی و بهره‌برداری از این فرصت‌ها بیش از هر زمان دیگری اهمیت دارد. ایجاد بازارهای جدید، به ویژه در مناطق کمتر توسعه یافته و بازارهای خارجی، می‌تواند یک فرصت طلایی برای گسترش فعالیت‌های تجاری باشد. همچنین، استفاده از نوآوری‌ها و پیشرفت‌های تکنالوژیکی می‌تواند فرآیندهای تولید و توزیع را بهبود بخشد و به کسب وکارها اجازه دهد تا با هزینه کمتر و کارایی بیشتر رقابت کنند. تغییرات در قوانین مالی، مالیاتی یا تجاری می‌توانند تأثیرات عمیقی بر محیط کسب و کار و فرصت‌های اقتصادی داشته باشند. تعدیل یا لغو قوانین پیچیده می‌تواند روند تأسیس و اداره کسب و کار ها را ساده‌تر کند. به عنوان مثال، کاهش مراحل اداری و مجوزهای لازم می‌تواند به کار آفرینان کمک کند تا سریع‌تر وارد بازار شوند و عملیات خود را آغاز کنند. با این وجود دولتها نیز نقش بسیار مهمی در ایجاد فرصت‌های اقتصادی دارد و می‌تواند از طریق سیاست‌ها و تدابیر اقتصادی مختلف، زمینه‌های مختلفی را برای توسعه و رشد اقتصادی ایجاد کند. که برخی این موارد دولتها می‌تواند از طریق تنظیم سیاست‌های مالی و مالیاتی، انگیزه های اقتصادی مختلف را تحت تأثیر قرار دهد. این شامل افزایش یا کاهش مالیات، تشویق سرمایه‌گذاری، و ایجاد انگیزه ها برای کسب و کارها می شود. دولت ها می‌توانند با ایجاد شرایط رقابتی سالم، تنظیم قوانین تجاری و حمایت از حقوق مالکیت معنوی و فزیکی، زمینه های مطمئنی را برای فعالیت‌های اقتصادی فراهم نموده و از طریق سرمایه‌گذاری در زیرساخت های عمومی مانند جاده‌ها، راه آهن، ارتباطات، و آب، فرصت‌های اقتصادی برای بخش خصوصی ایجاد کند. با این وجود از طریق ارائه تسهیلات مالی، آموزش و توسعه و حمایت از تحقیق و توسعه، کسب و کارها را در راستای ایجاد فرصت‌های اقتصادی حمایت کند. در نهایت، شناسایی و بهره برداری از فرصت‌های اقتصادی نه تنها به توسعه و رشد اقتصادی کمک می‌کند، بلکه می‌تواند به ایجاد اشتغال و افزایش رفاه عمومی منجر شود. با همکاری دولت و بخش خصوصی، می‌توان به سمت یک آینده اقتصادی پایدار و شکوفا حرکت کرد. در این راستا، کشورها باید به دنبال خلق شرایطی باشند که همه ذی‌نفعان بتوانند از این فرصت‌ها بهره‌برداری کنند و به توسعه ای جامع و متوازن دست یابند. امارت اسلامی افغانستان نیز همواره تلاش می‌کند تا در راستای ایجاد فرصت‌های اقتصادی در کشور و حمایت همه‌جانبه از سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی، با کاهش قابل ملاحظه‌ی مالیات، فرصت‌های خوبی در این زمینه فراهم کند.

**با احترام**
**اداره**

## د افغانستان او ترکمنستان په سرحدي سيمه کي لنډمهاله بندر جوړېږي



د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ د کانونو او پيټروليم، ملي دفاع، کورنيو چارو او د قومونو، قبايلو او سرحدونو چارو وزارتونو او د استخباراتو لوی رياست گډ پلاوي د ترکمنستان د سرحدونو چارو وزارت له معين ايلمانوف، د تاپي پروژې له رئيس مراد امانوف او د ياد هيواد د بهرنيو چارو وزارت له استازي سره وکتل. په دې کتنه کي دواړو لوريو د تاپي پروژې له پاره د افغانستان خاوري ته د تخنيکي کارکوونکو، وسايلو او ماشينرۍ پر لېږدولو، د کارکوونکو د وېزو او کاري ساعتونو د مشخصولو او د تاپي پروژې د تجهيزاتو د اسانه لېږد په موخه د افغانستان او ترکمنستان د سرحدي سيمي اسلام چشمه کي د لنډمهاله بندر په جوړېدو خبري وکړې. افغان پلاوي له خپل لوري څخه د تاپي پروژې د عملي کولو بشپړ ډاډ ورکړ او په سرحدي سيمه کي د کارکوونکو د تگ او راتگ، د وسايلو او ماشينرۍ لېږد او د کار د رسمي وخت په اړه د ترکمنستان هيواد وړانديزونه ئې د تائيد وړ وبلل، چې د دواړو هيوادونو د بهرنيو چارو وزارتونو د ياداښت له تبادله کولو وروسته به عملي سي. د ترکمنستان هيواد پلاوي هم د تاپي پروژې د کار د چټکوالي او اړينو وسايلو د برابرولو ژمنه وکړه.

## د ابونصر فراهي په گمرک کي د ۳۹ ميليونه افغانيو په ارزښت دوه بابه هنگرونه گټي اخيستني ته وسپارل سول




د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست د څه باندي (۳۹) ميليونه افغانيو په ارزښت د فراه ولايت د ابونصر فراهي په گمرک کي د سوداگريزو توکو د خوندي ساتلو په موخه دوه بابه هنگرونه جوړ او گټي اخيستني ته وسپارل. ياد هنگرونه په معياري ډول جوړ سوي دي، چي هر يو ئې د (۱۰۰) ټنه سوداگريزو توکو د زېرمه کولو وړتيا لري. په دې هنگرونو کي به شاوخوا (۵۰) تنو هيوادوالو ته د کار زمينه هم برابره سي. د دې هنگرونو د جوړېدو لگښت د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکول سوی او رغنيزي چاري ئې هم د يوه افغاني شرکت له لوري تر سره سوي دي. د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت له لوري د هيواد د گمرکونو د عصري کولو، د سوداگرو له پاره د اسانتياوو رامنځته کولو او په هيواد کي د سوداگرۍ د لا ودي په موخه گڼي گمرکي پروژې پلي سوي دي او يو شمېر ئې د پلي کېدو په حال کي دي.




**د ولايتي مستوفيتونو او گمرکونو د تدارکاتو مديرانو ته د تدارکاتي پروسې په تړاو روزنيز پروگرام جوړ سو**

م ۲



**تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي په زياته اندازه قاچاقي توکي نيول سوي دي**

م ۲



**د ننگرهار په گمرک کي (۱۲۳) کيلو گرامه ثانيه سوز نيول سوي**

م ۲



**د کورني صنعت د ودي په موخه د يو شمېر اقلامو د تعرفو په اړه مهمي پرېکړي وسوې**

م ۲



**د اسلام اداري نظام**

م ۳



**ايران، هندوستان، افغانستان او اُزبکستان د چابهار بندر له لاري د ټرانزيټ پر پراختيا خبري وکړې**

م ٤

# د کورني صنعت د ودې په موخه د یو شمېر اقلامو د تعرفو په اړه مهمې پرېکړې وسوې

د تعرفې کمېټه، چې د مالیې وزارت په ګډون ئې لس وزارتونه او اداري غړیتوب لري؛ د هیواد اقتصادي وضعیت ته په کتو د ګمرکي اقلامو د تعرفو په تړاو مهمې پرېکړې کوي. د دې کمېټې د روان (١٤٠٣) هـ.ل کال څلورمه ناسته د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د یاد معینیت د غونډو په تالار کې وسوه. په دغه ناسته کې د مالیې وزارت د تعرفې ریاست له لوري د لاندې ذکر سویو اقلامو په اړه د سوداګرو او صنعتکارانو غوښتني او په یادو برخو کې د بازار د وضعیت تحلیل د غونډې له ګډونوالو سره شریک سو، چې د تعرفې کمېټې غړو د یادو اقلامو په اړه هر اړخیز بحث وکړ او د کورني صنعت د ملاتړ او د سوداګرۍ او ملي عوایدو اصل ته په کتو سره لاندې پرېکړې وسوې، چې د مالیې د وزیر له منظورۍ وروسته به د تعرفې له اصولو سره سم پلي سي.

| شمېره | د توکي نوم | د ګمرکي تعرفې پخوانۍ سلنې | اوسنۍ ټاکل سوې تعرفه |
|---|---|---|---|
| ١ | انرژي داره غیرالکولي څښونکي | ٣٠٪ | ٦٠٪ |
| ٢ | جوس باب | ٦٠٪ | ٨٠٪ |
| ٣ | ګچ | ٣٠٪ | ٥٠٪ |
| ٤ | مرمر | ٣٠٪ | ٥٠٪ |
| ٥ | رُب | ٤٠٪ | ٥٠٪ |
| ٦ | د رُب فله | ٢،٥٪ | ٤٠٪ |
| ٧ | د کټارو له پاره نکلي پایپونه | ٣٠٪ | ١٠٪ |
| ٨ | یخچال | ١٠٪ او ٢٠٪ | ١٢٪ |
| ٩ | طبي عملیاتي مېزونه | ٣٠٪ | ٢٠٪ |
| ١٠ | د دفتري څوکیو پرزې | ٥٪ | ٣٠٪ |

په هیواد کې د هوا د ککړتیا د مخنیوي او د کم لګښت معیاري موټرونو د را واردولو په موخه پر برېښنایي موټرونو باندې هم ګمرکي تعرفه راکمه سوه.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١١ | هایبرېډ (نیمه برېښنایي موټر) | | ١٠٪ |
| ١٢ | برېښنایي موټر | ١٦٪ | ٥٪ |

همداشان د سوداګرۍ په تړاو د لا اسانتیاوو په موخه د یو شمېر توکو له پاره د تعرفې ملي کوډونو د جوړېدو په اړه هم پرېکړه وسوه.

## د ولایتي مستوفیتونو او ګمرکونو د تدارکاتو مدیرانو ته د تدارکاتي پروسې په تړاو روزنیز پروګرام جوړ سو




د مالیې وزارت د کارکوونکو چارو ریاست د ولایتي مستوفیتونو او ګمرکونو د تدارکاتو (٥٠) تنو مدیرانو ته د تدارکاتي پروسې په تړاو روزنیز پروګرام جوړ کړ. په هغه ناسته کې، چې په همدې مناسبت د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د غونډو په تالار کې جوړه سوې وه، د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس مولوي عبدالهادي سیف الخالد، د کارکوونکو چارو ریاست د روزني او ظرفیت لوړوني آمر محمد نادر همایون، د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ آمر بلال احمد احدي او یو شمېر نورو مسئولینو ګډون کړی وو. د روزني او ظرفیت لوړوني آمر د دغه پروګرام په پرانیستې وینا کې وویل، چې د روزني آمریت اساسي دنده د دغه شان روزنیزو پروګرامونو جوړول دي. دغه ډول پروګرامونه د مهارتونو د پراختیا، مسلکي کولو او اصولي اجراآتو له پاره خورا مهم دي او تاسي مکلف یاست، چې د مسلکي ښوونکو او د هغو مادي او معنوي اسانتیاوو څخه په اعظمي ګټې اخیستني سره، چې ستاسي له پاره چمتو سوي، خپل مسلکي ظرفیت لوړ او اداره او په ټوله کې دغه اسلامي نظام ته لا پیاوړتیا ور وبخښئ. د دعوت او ارشاد رئیس په خپلو خبرو کې وویل، چې تاسي په ولایتونو کې د مالیې وزارت او په ټوله کې د افغانستان د اسلامي امارت استازي یاست. هڅه وکړئ، چې له خلکو سره ښه چلند وکړئ او لا نوري اسانتیاوي ورته برابري کړئ، درسپارل سوي دندې په اخلاص او ښه نیت پرمخ یوسئ او خپل سیرت او صورت د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو سره سم برابر کړئ. د یادوني وړ ده، چې دغه پروګرام به (١٠) ورځې دوام وکړي، چې په هغه کې به ګډونوالو ته د تدارکاتو قانون، طرزالعمل او تدارکاتي پروسې تشریح سي.

## تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د کندهار، فراه، نیمروز، ننګرهار او هلمند ولایتونو په بېلابېلو سیمو کې په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي. په نیول سویو توکو کې (٩٣٣٣) کیلو ګرامه ګوړه، (١٥٤٠٠) کیلو ګرامه چاکلېټ، (٣١١٦) کیلو ګرامه درمل، (٥٢٧٠) کیلو ګرامه رُب، (١٨٤٥) کیلو ګرامه وچې شیدې، (١٧٢٠) کیلو ګرامه مالګه، (٩٥٢) کیلو ګرامه غوړي، (٧٠٠) کیلو ګرامه





اتشزا یا اور زیاتوونکې مایع، (٤٠٠) کیلو ګرامه قهوه، (٢٤٠) کیلو ګرامه تشي بوجۍ، (١٦٠) کیلو ګرامه د وېښتانو تېل، (١٠٠) کیلو ګرامه بیسکوټ او (١٤) عرادې موټر سایکلونه شامل دي. نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي. د یادوني وړ ده، چې د مالیې وزارت د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کې ګرځنده څارني کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چې ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

## د ولایتي مستوفیتونو د قطعیې ٣٥ تنو کارکوونکو له پاره روزنیز پروګرام پیل سو



د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د (١٤٠٣هـ.ل) کال له تدریسي پلان سره سم، د روزنیزو پروګرامونو په لړ کې د ولایتي مستوفیتونو د قطعیې (٣٥) تنو کارکوونکو له پاره د عوایدو د قطعیې راپور جوړولو، (م٢٧)، (م٢٩)، (م ٣٠) باقیاتو راپورونو او مدیریت د اساساتو تر سرلیک لاندې روزنیز پروګرام پیل سو. په همدې تړاو جوړه سوې غونډه کې د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست حمایوي مرستیال مولوي منصور الحق ذاکر د مالیې وزارت د ظرفیت لوړولو آمر مولوي محمد نادر همایون او د عوایدو او ګمرکونو د ملي اکاډمۍ آمر بلال احمد احدي ګډون کړی وو. د عوایدو لوی ریاست حمایوي مرستیال وویل، چې د داسي پروګرامونو موخه داده، چې په اړوندو برخو کې د کارکوونکو ظرفیتونه لوړ او په اداري چارو کې لا ډېر پرمختګ راوړل سي. نوموړي ټینګار وکړ، چې د مستوفیتونو راغلي کارکوونکي باید ترلاسه سوي تجربې او زده کړې د مستوفیتونو له نورو کارکوونکو سره هم شریکې کړي، څو په ګډه سره د ښه خدمت مصدر وګرځي. د یادوني وړ ده، چې د دغه (١١) ورځني روزنیز پروګرام په لړ کې به ګډونوالو ته د مجربو او مسلکي ټرېنرانو له لوري په یادو برخو کې د نظري زده کړو تر څنګ عملي زده کړې هم ورکړل سي.

## د ننګرهار په ګمرک کې (١٢٣) کیلو ګرامه ثانیه سوز نیول سوي



د ننګرهار ګمرک د تشریح برخې کارکوونکو په یوه وارداتي سوداګریزه محموله کې (١٢٣) کیلو ګرامه ثانیه سوز کشف او نیولي دي. دغه ثانیه سوز مواد، چې په ډېر مهارت په لېږدوونکې وسیله کې ځای پر ځای سوي ول او قاچاق کوونکو غوښتل، په پټه ئې افغانستان ته راوړي ترلاسه سول. په دې تور نیول سوي دوه کسان د نورو څېړنو له پاره اړوندو ارګانونو ته سپارل سوي دي. د یادوني وړ ده، چې اوسمهال د هیواد په ګمرکونو کې د قاچاقي او ممنوعه توکو د وړلو او راوړلو جدي څارنه کېږي، چې پکښې ښکېل کسان تعقیب او د قانون منګولو ته سپارل کېږي.

# د اسلام اداري نظام

عبدالجبار وحدت
د ملي بوديجې لوی رئيس

کلونـه وړانـدي مسـلمانانو منظـم اداري سيسـتم درلـود، هيلـه لـرو چـي يـو ځـل بيـا د اسـلام اداري نظـام د الگـو پـه توگـه نـړۍ تـه ور وپېژنـو. د غـرب پرلپسـې فکـري هڅـو او اسـتعمار حتـی لـوی تعـداد مسـلمانان پـه دې معتقـد کـړل، چـي اسـلام د فـرد او رب تعالـی تـر منـځ اړيکـه څېړي او لـه عباداتـو سره سروکار لـري. د دوی پـه خولـه لـه نظـم او اداري سره ئـې اړيکـه نـه سـته. د دوی دا کـړني مـوږ دې تـه هڅـوي، چـي پـه اقتصـاد او اداري برخـو کـي پـه غـرب پـسي اقتـدا وکـړو، مگـر نـه؛ واقعيـت هيڅکلـه داسي نـه دئ. اسـلام منظـم او پـه ټـول تللـی اداري نظـام لـري، چـي پـه لومـړۍ ليکنـه کـي بـه مقدمـاتي بحـث پـرې وکـړو. د لـوړو اهدافـو تـر لاسـه کـول تدبيـر، نظـم، پـلان او يـوه مشـخص رهـبر تـه اړتيـا لـري. پـه گـډوډۍ کـي د اهدافـو تـر لاسـه کـول اصـلاً ناشـوني دي. اسـلام د نظـم ديـن دئ. پـه لمانځـه کـي هـم مشـخص امـام وي، مقتديـان د امـام حرکتونـو تـه پـه کتـو منظـم خپـل عبـادت کـوي، پـه سـفر کـي لـه دريـو څخـه د يـوه کـس پـه رهبر/آمـر ټاکلـو بانـدي ټينـگار سـوی، دا ټـول پـه دې مانـا دي، چـي اسـلام يـو مشـخص اداري نظـام لـري او رهبريـت تـه ژمـن نظـام دئ. د کارونـو وېـش، چـي پـه اداره کـي مهـم بحـث دئ، قرانکريـم د دنـدو وېـش تـه پـه لانـدي ډول اشـاره کوي،(فالمدبـرات امـرا) ، ژبـاړه: بيـا لـه (الهـي احکامـو سره سـم) د چـارو تنظيـم کـوئ. همدارنگـه رسـول اللـه (ﷺ) هـم خپـل ملگـري پـه مختلفـو حالاتـو او ځايونـو کـي پـه بېلابېلـو دنـدو مکلفـول؛ لکـه: معـاذ بـن جبـل د والي او قـاضي پـه حيث، خالـد بـن وليـد او سـعد بـن ابي وقـاص او داسي نـور ئـې هـم پـه بېـلا بېلـو ځايونـو کـي مسـئولين ټـاکلي ول. د اداري مهمي دندي(POSDRB) يا پلان – تنظيم- رهبري- همغـږي- بوديجـه جوړونـه او کنټـرول کلونـه وړانـدي مـوږ تـه د سـيرت پـه درسـونو کـي راښـودل سـوي دي، دا چـي د کاغـذ پـر مـخ پـاتي سـوي دا يـو جـلا بحـث دئ. د اسـلام پـه تاريـخ کـي پيغمبرانـو سـتر سـتر حکومتونـه رهـبري کـړي دي، ټـول پيغمـبران پـه تقـوی، علـم، عقـل، بصيـرت، شـجاعت، امانتـداری، ډيپلوماسـۍ او سياسـت کـي بې بېلگـي شـخصيتونه ول. د حـضرت عثمـان (رض) پـه وخـت کـي د اسـلامي حکومـت جغرافيـه د اطلـس لـه سـمندره د چيـن تـر دېوالـه او آن د بالـکان لـه هيوادونـو د چيـن تـر سـمندره پـوري رسـېدله، چـي دا چـاره پرتـه لـه مظبـوط نظـم، پـلان او اداري څخـه اصـلاً ممکنـه نـه وه. د سـوداگرۍ، قضـاء، معاشـاتو سيسـټم، اقتصـادي نظـم، پـه بـازار کـي د قيمتونـو کنټـرول، د احتـکار مخنيـوی، نظـم او عـدل هغـه څـه دي، چـي ټـول لـه مـوږ څخـه غـرب کاپـي کـړي دي او پـه نويـو الفاظـو او نـوې بڼـه پـر مـوږ خپـل الفـاظ بيـا ځـلي خرڅـوي او منـي. قـرآن کريـم د رهـبرۍ او رهبريـت تـر ټولـو جامـع کتـاب دئ. مـا چـي د لېډرشـيپ څومـره کتابونـه لوسـتي دي، گنگـس کـړی ئـې يـم، غوڅـه او قاطـع خـبره مـي نـه ده تـرې زده کـړې، مگـر پـه قـرآن پـاک کـي د پيغمبرانـو کيسـې ټـول د عمـلي لېډرشـيپ/ رهـبرۍ درسـونه دي. تقـوی، عـدل، صداقـت، تواضـع، زغـم، اجـراآت، همـدردي، ترحـم، ځراکـت، غـوره اخـلاق، اخـلاص، عـزم، ثبـات، عفـوه، علـم او اعتـدال بحثونـه پـه بېـلا بېلـو ځايونـو کـي مکـرراً سـوي دي. مثـلاً: پـه سـوره يوسـف کـي د سـتراتيژيک پـلان مکملـه يادونـه سـوې ده. لومـړی ئـې خـوب(لېرليـد) ليدلـی وو، څوارلـس کلـن پـلان چـي اووه کالـه بـاران، اووه کالـه د وچکالـۍ بحـث سـوی دئ، کـټ مـټ پـه سـتراتيژيک پـلان کـي لومـړی لېرليـد بايـد مشـخص وي. سـوره يوسـف کـي د يوسـف (ع) صـبر، ځراکـت، د اللـه پـاک لـه لـوري د هغـه سـپيناوی، ثبـات او گـڼ مـوارد يـاد سـوي دي. پـه سـوره هـود کـي د شـخړي (منازعاتـو د حـل) مديريـت بشـپړ بحث سـوی دئ. موسـی (ع) واقعه د بحران د مديريت اړونـد او د مذاکـرې عجيـب مـوارد پکـي يـاد سـوي دي، چـي لـه فرعـون سره ئـې مخته وړلـه. رسـول اللـه (ﷺ) د اداري سيسـتم پـه راس کـي د اجرائيـوي ځـواک او رهـبر پـه



توگـه، مرسـتيالان ئـې د اسـلام د لومـړي دور شـخصيتونه، د مرکـزي کابينـې د شـورۍ غـړي اووه تنـه د مهاجرينـو او اووه تنـه د انصـارو څخـه حـضرت حمـزه، حـضرت جعفـر، حـضرت ابوبکـر صديـق، حـضرت عمـر، حـضرت عـلي، ابـن مسـعود، سـلمان فـارسي، عـمار، حذيفـه، ابـوذر، مقـداد او بـلال رضـوان اللـه علهيـم اجمعيـن دي صداقـت او اطاعـت نهايـت مهـم وو، پـه ټولـو مجالسـو کـي بـه ټينـگار پـرې کېـده، همدارنگـه د مامورينـو انتخـاب ئـې د نمونـې پـه ډول ابوسـفيان بـن حـرب د نجـران د سـيمي والي ټاکلـی وو او هـره ورځ ئـې د هغـه وخـت د اړتيـاوو مطابـق يـو درهـم معـاش ورکاوه، ځينـو شـتمنو صحابـه وو بـه د تنخـوا هيـڅ غوښـتنه هـم نـه کولـه. مانـا هـم د معـاش سيسـتم هماغـه وخـت وو او هـم فـداکاري موجـوده وه. د همپالنـې او عدالـت بېلگـه ئـې دا ده، چـي د غنيمـت مـال بـه ئـې سمدسـتي وېشـه، مجـرد تـه يـوه برخـه او متاهـل تـه دوې برخـي ورکـول کېـدې. همدارنگـه د حـضرت ابوبکـر صديـق(رض) پـه سـپېڅلي دور کـي جزيـرة العـرب پـه دريـو ولايتونو(مکـه مکرمـه، مدينـه منـوره او طايـف) وېشـلي ول او د يمـن سـيمه ئـې پـه اتـو ولايتونـو وېشـلې وه. همدارنگـه بـه حـضرت ابوبکرصديـق(رض) پـه خپلـه د اداري مسـئولينو او مامورينـو څارنـه کولـه، يزيـد بـن ابوسـفيان تـه ئـې پـه خپلـو لارښـوونو کـي ويـل، چـي تاتـه د ولايـت مـشري درسـپارم او ازمايښـت دربانـدي کـوم، کـه چيرتـه دي پـه نېکـۍ لاس پـوري کـړ؛ نـو خپـل کار تـه بـه دوام ورکـوې او کـه نـه وو، لـه دنـدې بـه دي گوښـه کـړم. همدارنگـه د حـضرت عمـر(رض) خلافـت پـه دور کـي فتوحـات زيـات وسـول او د اسـلامي حکومـت جغرافيـه پراخـه سـوله، ځينـي بدلونونـه ئـې رامنځتـه کـړل، قضائيـه قـوه ئـې لـه اجرائيـه قـوې څخـه جـلا کـړه، د واليانـو عمـده وظايـف د خـاوري سـاتنه، د عدالـت خپـرول، د ظلـم مخنيـوی او د خلکـو خدمـت کـول ول، د کابينـې مجلـس د حکومـت پـه چـارو او اداره کـي مشـورتي مجلـس وو، د بيـت المـال اداره ئـې پـه خپلـه پـه لاس کـي ونيولـه او نـوري چـارې ئـې د تـوان، اړتيـا او وړتيـا مطابـق پـه صحابـه کرامـو ووېشـلې(د ژمنتيـا سـتونزه هلتـه پـه بشـپړ ډول حـل وه)، دفـتري نظـام ئـې اسـاسي جـوړ کـړ، د وسـله وال فـوځ لـه پـاره ئـې جـلا دفـتر پرانيسـت، د فـوځ متخصصيـن، د لښـکرو تنظيـم او د دوی لگښـتونه ئـې جلاجـلا تنظيـم کـړل، د ځمکـو مسـاحت معلومولـو برخـه، د خلکـو د سر شـمېرني/ احصائـې دفـتر ئـې پرانيسـت، د معـارف مدارسـو او ښـوونځيو لـه پـاره ئـې جـلا د ودانيـو بندوبسـت وکـړ او پـه دې ځانگـه کـي ئـې د معلمينـو اسـتخدام وکـړ، د خلکـو شـکايتونه بـه پـه منظـم ډول اورېـدل او حـل کېـدل. دې برخـي تـه ئـې محمـد بـن مسـلمه وټاکـه. واليـان بـه ئـې چـي لېـږل ځينـي سپارښـتني بـه ئـې ورتـه کولـې او دا بـه ئـې ورتـه ويـل، چـي د ولـس پـه وړانـدي خپـلي دروازې مـه بنـدوئ، تاديـب، مکافـات او مجـازات ټـول پـه منظـم ډول ورکـول کېـدل، د حمـص والي ئـې مدينـې تـه راوغوښـت او لـه يـاد والي سره ئـې درې ورځـې ملاقـات ونـه کـړ، جـرم ئـې پـه حمـص کـي د خلکـو پـه وړانـدي د دروازو مقطعـې بنـدول وې. همدارنگـه د مکافاتـو بحـث هـم مطـرح وو، يـو وخـت ئـې د حمـص والي تـه د نـه سـتړي کېدونکـو کړنـو پـه مقابـل کـي (١٠٠٠) روپـۍ ور ولېږلـې، مگـر هغـه ټـولي پـه مجاهدينـو ووېشـلې. د لومـړۍ برخـي بحث لـه دې زيـات نـه سـو غځولای، پـه ټولـه کـي ويـلای سـو، چـي اسـلام ځانگـړی اداري نظـام لـري او دا برخـه ئـې هيڅکلـه لـه پامـه نـه ده غورځولـې.

## اعلانات داوطلبی

### د داوطلبی خبرتيا

د ماليې وزارت د دولتـي املاکـو لـوی رياسـت غـواړي، چـي د کابـل ښـاروالۍ (۴) مـي او (۱۰) مـي ناحيـې اړونـد (۲) دولتـي ملکيتونـه داوطلبـۍ لـه لاري اعـلان تـه وړانـدي کـړي.

۱- د کابـل ښـاروالۍ (۴) مـي ناحيـې اړونـد د کارتـه پـروان دوهمـه حصـه کـي يـو دربنـد حويلـۍ چـي (۶۵۰) مـتره مربـع مسـاحت لـري او يـو بـاب دوه پوړيـزه ودانـۍ درلودنکـې ده، چـي مياشـتنۍ ابتدايـي کرايـه ئـې (١٨٦٦٦) افغانـۍ ده د (۳) کلونـو لـه پـاره ئـې پـه کرايـه ورکـوي. کوردينات(جـی پـی اس نمـبر): ٦٩,٢٣٧١٩٩-٣٤,٥٣٥٩٧

۲- د کابل ښاروالۍ (۱۰) مي ناحيه اړوند سليم کاروان څلور لارې سره د يو باب (۲۲) شمېره اپارتمان چي ۴ خونې، دوه تشـنابونه او يـو پخلنځـای لـري چـي مياشـتنۍ ابتدايـي کرايـه ئـې (۷۵۰۰) افغانـۍ ده د (۳) کلونـو لپاره پـه کرايـه ورکـوي. کـور دينـات (جـی پـی اس نمـبر) ٣٤,٥٥٥٩٩ – ٦٩,١٦٠٥٥

هغـه حقيقـي او حکمـي اشـخاص، چـي غـواړي پورتـه ذکـر سـوي ملکيتونـه پـه کرايـه ونيـسي، کـولای سي چـي خپـل غوښـتنليکونه د (۱۴۰۳ / لنـدۍ / ۱۲ نېټـې څخـه د ۱۴۰۳/ لنـدۍ/۲۵ ) نېټـې پـوري د دولتـي املاکـو لـوی رياسـت تـه تسـليم او شرطپانـه ترلاسـه کـړي.

آدرس: د سينما پامير (۱۴) پوړيزه ودانۍ،(۵) پوړ، د مرکزي ټرونونو د ارزوني لوی مديريت.

د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴۰۳/لندۍ/ ۲۶) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د اړيکو شمېرې: ٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧- ٠٢٠٢٩٢٤٦٢٤

### د داوطلبی خبرتيا

د افغانسـتان اسـلامي امـارت د ماليـې وزارت پـر شرايطـو برابـر ټولـو داوطلبانـو تـه بلنـه ورکـوي، چـي ( د ماليـې وزارت، د گمرکونـو مرکـزي لابراتوارونـو تـه د تجهيزاتـو او جنټونـو د تـدارک پـه پـروژه ) کـي چـي تشـخيصيه نمـبر ئـې (Rebid-٨٠٢-G/١٤٠٣/MOF) دئ او د داخـلي پرانيسـتي داوطلبـۍ پـه بڼـه ترسره کېږي، برخـه واخـلي او شرطپانـه ئـې پـه پښـتو او دري ژبـه د فلـش يـا ميمـوري لـه لاري د شرطپانـې لـه شرايطـو او د تداركاتـو لـه قانـون او طرزالعمـل سره سـم د لانـدي ادرس څخـه ترلاسـه کـړي.

ځـای: د ماليـې وزارت د تدارکاتـو رياسـت او د افغانسـتان اسـلامي امـارت د چـارو اداري لـوی رياسـت اړونـد د مـلي تدارکاتـو اداري رسـمي ويـب سـايټ.

تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلي نېټه: د (لينديۍ/۱۹/ ۱۴۰۳) د سهار ۱۱:۰۰ بجې.

د آفرگشايي ټاکلې نېټه: د ( لينديۍ/ ۱۴۰۳/۲۹) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفر تضمين: پنځه ويشت زره (۲۵۰۰۰) افغانۍ.

د اړيکو شمېره: ٠٢٠٢٩٢٤١٥٦

په ځنډ رسېدلي او انټرنيټي افرونه د منلو وړ نه دي.

### اطلاعيه تصميم اعطای قرارداد

بدينوسـيله بـه تاسـی از فقـره (۲) مـاده چهـل و سـوم قانـون تـدارکات بـه اطـلاع عمـوم رسـانيده ميشـود، اينکـه وزارت ماليـه امـارت اسـلامی افغانسـتان در نظـر دارد( پـروژه تهيـه و تـدارك سـه قلـم مـواد محروقات زمسـتانی مـورد ضرورت قومندانـی قطعـه محافظـت گمـرکات ) دارای تشـخيصيه نمـبر ٩٠٩-G/١٤٠٣/MOF را بـا شرکـت محـترم سـاختمانی و خدمـات لوژسـتيکی سـالار ناصری دارنـده جواز نمـبر(٦٩٢٧٧) بـه قيمت مجموعـی مبلـغ (١٩٩٠٨٠٠) يـک ميليـون و نـه صـدو نـود هـزار و هشـتصد) افغانـی عقـد قـرارداد نمايـد. اشـخاص حقيقـی و حکمـی کـه هرگونـه اعـتراض در زمينـه داشـته باشـند ميتوانـد اعـتراض خويـش را از تاريـخ نـشر ايـن اعـلان الـی ۷ روز تقويمـی طـور کتبـی تـوام بـا دلايـل آن بـه وزارت ماليـه امـارت اسـلامی افغانسـتان واقـع پشـتونسـتان وات -کابـل ارائـه نمايـد. ايـن اطلاعيـه بـه معنـی عقـد قـرارداد نبـوده و الـی تکميـل ميعـاد فـوق الذکـر و طـی مراحـل قانونـی بعـدی، قـرارداد منعقـد نخواهـد شـد.

آدرس : وزارت ماليه چهارراهی پشتونستان –رياست تدارکات،آمريت تدارکات - مشاوريت تدارکات منزل دوم معينيت اداری.



اعلان داوطلبی جمنازيوم ورزشی جايداد مستوفيت ولايت پروان

مديريـت عمومـی املاک دولتـی مسـتوفيت ولايـت پـروان بـه تعـداد (1) قطعـه جايـداد مـازاد دولتـی ملکيـت آمريـت تربيـت بدنـی و ورزش ولايـت پـروان را بـه منظـور افزايـش عوايـد امـارت اسـلامی افغانسـتان بـه شـکل آفـر سربسـته بـا شرايـط ذيـل بـه اعــلان داوطلبـی می سپارد.

1 -جايداد مذکور بدون برق وبدون اطاق ميباشد.

2 -شخص درخواست کننده بايد دارای جواز مربی گری باشد.

3 -درصورتيکه آمريت تربيت بدنی وورزش کدام برنامه داشته باشد جايداد ذکر شده طور رايگان دراختيار آنها قرارداده شود.

| شماره | جايداد | موقعيت | مساحت | نرخ ابتدائی ماهانه به افغانی | طول البلد | عرض البلد |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | تعمير جمنازيوم ورزشی | شهرچاريکار مرکز پروان | موازی 612.72 مترمربع | 12500 | 515057 | 3872910 |

اشـخاص حقيقـی و حکمـی واجـد شرايـط کـه خواهـش اجـاره و يـا کرايـه گرفتـن جايـداد فـوق الذکـر را داشـته باشـند در خواسـتی هـای خويـش را از تاريخ 14/9/1403 الـی 27/9/1403 مـدت (14) يـوم بـه اداره مسـتوفيت پـروان مديريـت عمومـی املاک دولتـی بسپارند وشرطنامه را ملاحظه نموده پول حق الاشتراک بدون بازگشت را پرداخت نمايند.

مجلـس مزايـده درحضـور داشـت مزايـده کننـده گان واجـد شرايـط درمديريـت عمومـی املاک مسـتوفيت ولايـت پـروان تحـت نظر هيت مزايده به تاريخ 28 قوس 1403 تدوير ميگردد البته اسناد ناوقت رسيده بعد از ضرب الاجل تعين شده رد ميگردد.

Afghanistanmof www.mof.gov.af

# شتمني SHTAMANI
اوونيزه

د امتياز خښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ويبسايټ: mof.gov.af
ايکس پاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)




# Afghanistan, Turkmenistan to Construct Temporary 'Port' at Border



The joint delegation led by Alhaj Mufti Abdulmatin Saeed, Deputy Minister of Customs and Revenues of MoF met with Ilmanov, the Deputy Minister of Border Affairs of Turkmenistan and Murad Amanov, the Director of the TAPI project, and the representatives of the Ministry of Foreign Affairs of the aforementioned country. Key Afghan bodies, Ministry of Mines and Petroleum (MoMP), Ministry of Defense (MoD), Ministry of Interior Affairs (MoIA), Ministry of Borders and Tribal Affairs (MoBTA) and the General Directorate of Intelligence (GDI) were involved in the said Afghan delegation. In this meeting, both sides discussed about the construction of a temporary port in Islam Cheshme to send technical staff, tools and machinery to Afghanistan for the TAPI project, to determine the visas and working hours of the staff and to facilitate the transfer of project equipment to Afghan- Türkmen border. Afghan delegation from its side gave full assurance of the implementation of TAPI project and considered that the proposals of Turkmenistan regarding the movement of workers in the border area, the transfer of tools and machinery, and the official working hours are acceptable, which will be implemented after the exchange of the memorandum by the foreign ministries of the two countries. The delegation of Türkmenistan also promised to speed up the work of the TAPI project and provide the necessary equipment.

## General Directorate of Customs Builds 2 hangars Worth 39 mln Afs for Abu Nasr Farahi 'Customs' as MoF Allocates



The General Directorate of Customs of MoF constructed two hangars worth more than 39 million Afs in the Customs of Abu Nasr Farahi of Farah province for the safe keeping of commercial goods. These hangars are built in a standard way, each of which has the capacity to store 100 tons of merchandise. Around 50 citizens will also find employment at these hangars, according to the officials of the said customs. The expense of the construction of these hangars is paid from the development budget of MoF, and the construction work was accomplished by an Afghan construction company.

Notably, many customs projects have been implemented by the Ministry of Finance for the purpose of modernizing the country's customs, providing facilities for businessmen and ramping up business related efforts in Afghanistan, and some of such projects are in the process.




## ايران، هندوستان، افغانستان او اُزبکستان د چابهار بندر له لاري د ټرانزيټ پر پراختيا خبري وکړي



د تهران ټايمز – TEHRAN TIMES په نوم ايراني رسنۍ په خپل يوه راپور کي ليکلي دي، چي (٤) بېلابېلو ملکونو پر دې باندي بحث و کړ، چي د چابهار ايراني سمندري بندر له لاري ټرانزيټي پراختيا پيدا کړي؛ نو دې موخي ته د رسېدو په موخه د هند په مومبۍ کي د گډي کاري ډلي درېيمه غونډه جوړه سوه. راپور زياتوي، چي د يادو هيوادونو استازو؛ لکه: د ايران له خوا د چابهار بندر د اقتصادي چارو مرستيال حسين شهدادي؛ د هند د بندرونو، لېږد رالېږد او د اوبو د لارو چارو وزارت لوړ پوړو چارواکو او همدارنگه د اُزبکستان، افغانستان او ايران سفيرانو او ډيپلوماټانو گډون کړی وو. د يادو هيوادونو گډونوالو د بندر اوسني زېربنايي او عملياتي ظرفيت بياکتنه هم وکړه. چارواکو د گمرکي پروسې د ساده کولو، څو ماډليز - ټرانسپورټ ارتباطاتو ته وده ورکولو او د چابهار په پراختيا کي د پانگوني د پراختيا د اقداماتو په تړاو وړانديز کړی؛ ترڅو د سيمه ييزي سوداگرۍ دروازې په توگه خپل بشپړ ظرفيت پرانيزي. تهران ټايمز وايي، چي دا بندرد افغانستان او اُزبکستان له پاره يوه لنډه او خوندي سوداگريزه لاره برابروي، چي د پاکستان له لاري د دوديزو سوداگريزو لارو له پاره يو گټور بديل دئ. چابهار بندر د هند د نړيوال ـ شمال ـ جنوب ـ ټرانسپورټي دهلېز يا (INSTC) د يوې برخي په توگه کتل کېږي، چي هند د ايران او منځنۍ اسيا له لاري له روسيې سره وصلوي. هندوستان په افغانستان او منځنۍ اسيا کي د اقتصادي ثبات د ودي له پاره پر خپله ژمنتيا ټينگار کوي. راپور په وروستۍ برخه کي دا هم ليکي، چي د خنډونو باوجود، څلورو سرو هيوادونو د چابهار په برخه کي د همکارۍ د لا پراختيا او د سيمه ييزي سوداگرۍ او اقتصادي ادغام د ودي له پاره د نوښتونو په برخه کي پر خپلو ژمنو ټينگار وکړ.

**چابهار بندر د افغانستان او اُزبکستان له پاره يوه لنډه او خوندي سوداگريزه لاره برابروي، چي د پاکستان له لاري د دوديزو سوداگريزو لارو له پاره يو گټور بديل دئ.**

**څلور واړو هيوادونو د چابهار په برخه کي د همکارۍ د لا پراختيا او د سيمه ييزي سوداگرۍ او اقتصادي ادغام د ودي له پاره د نوښتونو په تړاو پر خپلو ژمنو ټينگار وکړ.**

**گډونوالو د گمرکي پروسې د ساده کولو، څو ماډليز - ټرانسپورټ اړيکو ته وده ور کولو او د چابهار په پراختيا کي د پانگوني د پراختيا د اقداماتو په هکله وړانديز وکړ.**


### د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د گمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومي ستونزي حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړيکه ونيسئ!
اړيکه: ۲۲۱

### رياست عمومی گمرکات وزارت ماليه همېشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!

تماس: ۲۲۱



### د شکايتونو اورېدلو خپلواک آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چي د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای سي، چي د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له خپلواک آمريت سره ئې په حضوري بڼه او يا د لاندي ادرسونو له لاري شريک کړي.
ټليفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( +۹۳ )
برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af